# Refugee agencies help and advice

Pashto 28/03/08

# د سیکشن ٤ *مرسته

## اضافي واوچرې

ځني خلک کوم چي د سیکشن ٤ UKBA (هوم آفس) مرسته ترلاسه کوي اوس د اضافي واوچرو دپاره درخواست ورکولي شي. دا پاڼره بیانوي چي کوم خلک درخواست ورکولي شي او د څه دپاره هغوي درخواست ورکولي شي.

**<u>هر هغه څوک چي په سیکشن ٤* مرستي باندي ی نو د اضافي واوچرو دپاره درخواست ورکولي شي چي:</u>**

١. **د دري میلو نه زیات سفر اوکړي** – که چیری:

- د صحت د پاملرني علاج ترلاسه کوي (په درخواست کي د ثاکني ثبوت شامل کړئ) : یا
- د پیدایش (زیږیدني) رجستري کول ي

٢. **د زیږیدني سندونه (سرتیفیکیټ) - د زیږیدني سند حاصلولو دپاره پوره قیمت ورکول**

٣. **د ټیلیفون کول او خطونه:**

**د ټیلیفون کولو او د پوستي محصول \قرطاس خرچه ورکول:**

- ډاکټرانو \ طبي پاملرني ته
- وکیل ته چي د امیګریشن مشوری ورکولو لایق ي
- کورټ یا ټریبیونل ته
- په یو ځای سرویس* ته
- اوسیدونکي ته دسلا او مشوري ورکونکي بیورو * ته
- ځای محلي واکمندو ته
- امیګریشن آفیسر ته ، یا
- هوم آفس(UKBA) * ته

**<u>د بلاربي ښځو او هغه مور پلار چي ورسره د ١٦ کالو نه کم عمر ماشومان ی دپاره اضافي مرسته ورکول</u>**

٤ . **یو بیل واوچر (٢٥٠£ ) د هر یو نوي ماشوم دپاره** – تاسو د دي دپاره د ماشوم د پیدایش نه ٨ هفتي وړاندي پوري درخواست ورکولي شئ. او یا د ماشوم د پیدایش د ٦ هفتو کي دننه.

٥ . د بلاربي ښځو او د دري کالو نه کم عمر ماشومانو دپاره اضافي هفته ییز واوچر:

- د بلاربتوب په موده کي د دري (٣) پونډو هفته ییز اضافي واوچر
- د نوي ماشوم یا د یو کال عمر پوري ماشوم دپاره د پنځه (٥) پونډو هفته ییز اضافي واوچر
- د یو کال نه تر د دري کالو ماشوم دپاره د دري (٣) پونډو اضافي هفته ییز واوچر

٦. د ماشومانو د لباس دپاره اضافي هفته ییز واوچر

- د هر یو ماشوم د ١٦ کالو عمر پوري د پنځه (**٥**) پونډو اضافي هفته ییز واوچر

٧. **استثنایی خصوصي ضرورتونه:**

- که چیري د سفر کولو، ټیلیفون، پوستي محصول\قرطاس یا د ژوند نور اساسي ضرورتونو دپاره استثنایی ضرورت شي، کوم چي په پورته ورکړي شوو کي نه سر کیږي ، نو خلک ورله درخواست ورکولي شي او ثبوت دي ورسره خامخا شامل کړي

## درخواست څرنګه ورکړې کيږي:

درخواست فارم د UKBA* په ويب سائټ موجود دي. هر يو څوک چي پکښي د استوګنځي ورکونکي هم شامل دي UKBA* ته د اضافي واوچرو دپاره په درخواست وړاندې کي ستاسو مرسته کولي شي. که چيرې ستاسو درخواست رد کړې شي نو تاسو بيا اپيل نه شئ کولی.

١ . **د کيس د فيصلي په حالاتو کي** (د اپريل ٢٠٠٧ نه مخکي د پناه دپاره درخواست ورکړې ي):
د کرويدان سيکشن ٤ ټيم ته درخواست فارم فيکس کړئ – درخواست فارم په ويب سايټ موجود دي:

http://www.bia.homeoffice.gov.uk/sitecontent/applicationforms/asylum/caseresolutionsection4provision

2. **که چيرې ستاسو NAM کيس څښتن ي** (د اپريل ٢٠٠٧ نه پس د پناه دپاره درخواست ورکړې ي):
درخواست فارم د سيمه ييز پناه اخيستونکي ټيم کيس څښتن ته فيکس کړئ
http://www.bia.homeoffice.gov.uk/sitecontent/applicationforms/asylum/section4provision

ثبوت ورسره هميشه شاملول پکار دي ، لکه د مثال په توګه:

- د طبي ضرورتونو ثبوت
- يا خو MATB1* ، او يا د پيدايش سند (کله چي ماشوم د UKBA* سره د مخکي نه نه ي رجسټر شوي)

که چيرې تاسو څه پوښتنه لرئ يا په درخواست ورکولو کي درته څه مساله ي نو، مهرباني سره د خپل استوګنځي ورکونکي سره خبرې اترې اوکړئ او يا د خپلي ځای محلي مشوره ورکونکي ايجنسی سره اړيکه اوکړئ:

***دا لفظونه د ادارو انګريزي نومونه دي يا نور لفظونه کوم چي نه شي ترجمه کيدی. مهرباني سره مشوره ورکونکي کارګر ته اووايئ چي تاسو ته بيان کړي چي د دي څه مطلب دی.**